DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۳۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

لسم کال - دویمه دوره، ۷۳٤ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۰۱ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د وري ۳ مه - د سه شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الثانی ٦ مه ۲۰۱۰ د مارچ ۲۳ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

طالب مشران:
ایران روزنه، وسله او تجهیزات راکوي

د برېتانیا چاپ سندې ټایمز ورځپاڼې په خپله یوه وروستی ګڼه کې په یوه راپور کې ویلي، چې ایران په سلګونو وسلوال طالبان په محاربوي برخه کې روزلي، څو په افغانستان کې د ناټو ځواکونو پر وړاندې وجنګېږي. که څه هم کابل ته په سفر کې د ایران ولسمشر محمود احمدي نژاد له حامد کرزي څخه خپل ملاتړ اعلان کړ، خو برېتانوي او امریکایي چارواکي ایران د طالبانو په ملاتړ تورنوي.

ویل کېږي وروسته تر هغه چې په پاکستان کې د طالبانو نیونو زور واخیست، زیاتره طالبانو ایران ته مخه کړې.

۳مخ

رییس جمهور کرزی، مذاکرات صلح و آزمون های حساس منطقه یی



در حالی که هیاتی از حزب اسلامی در کابل به سر می برد، تا گفتگوهای شان را با مقام های بلندپایهٔ دولتی جهت دستیابی به یک توافقنامهٔ صلح ادامه دهند، تحلیلگران به این باور اند، رییس جمهور کرزی به خاطر استقرار صلح در کشور، با مسایل بسیار حساس مواجه است. زیرا وی باید توازن منافع کشورهای همسایه و غربی را که این کشور را کمک می کند، در نظر گیرد.

این موضوع را خبرگزاری فرانسپرس نیز بررسی کرده است. فرانسپرس در این مورد می نویسد:

با دستگیری طالبان بلندپایه، به شمول ملاعبدالغنی برادر مرد شمارهٔ دوم طالبان توسط حکومت پاکستان، پلان صلح رییس جمهور کرزی از حرکت باز ماند. ص۳

د حزب اسلامي پلاوی په کابل کې د سولې پر خبرو بوخت دی

د حزب اسلامي پلاوی له ۲۰ ورځو راهیسې په کابل کې دی او تر اوسه یې له ولسمشر حامد کرزي او یو شمېر جهادي مشرانو او سیاسي شخصیتونو سره په افغانستان کې د سولې په اړه خبرې کړې دي.

دا څرګندونې د دې حزب یوې باوري سرچینې، چې نه یې غوښتل نوم یې څرګند شي، د وري پر دویمه وکړې.

د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ دغه حزب د اوسني افغان دولت او په افغانستان کې د ښتو بهرنیو ځواکونو پر ضد له تېرو شاوخوا اتو کلونو راهیسې پر وسلواله مبارزه بوخت دی او دا لومړی ځل دی، چې پلاوی یې کابل ته د خبرو لپاره راځي.

یاده شوې سرچینه زیاتوي، چې دغه پلاوي تراوسه پر ولسمشر سربېره د مشرانو جرګې له رییس صبغت الله مجددي، د حامد کرزي له ورور ولي کرزي او یو شمېر نورو سیاسي شخصتونو سره لیدلي دي.

د ده په وینا، تاکل شوې ده، چې دغه پلاوی د ولسمشر له لومړي مرستیال مارشال محمد قسیم فهیم، د ولسي جرګې لُه مشر محمد یونس قانوني او نورو چارواکو او شخصیتونو سره هم خبرې وکړي.

د سرچینې د څرګندونو له مخې، له دې خبرو څخه د دې حزب موخه د افغانستان استقلال او په دې هېواد کې سوله ټینګول دي.

ده زیاته کړه: « حزب اسلامي د خان لپاره هېڅ

۳مخ



د کارموندنې اعلان

DW

د آلمان ږغ راډیو لیکوالو ته اړتیا لري

د آلمان ږغ راډیو د خپلو راډیویي ډرامو د خپرونې د یوې نوې لړۍ لپاره مجربو او استعداد لرونکو ښځینه او نارینه لیکوالو ته اړتیا لري.

په ټولیزه توګه دغه دوه سوه راډیویي ډرامې، چې سل یې په پښتو او سل یې په دري کې په پام کې نیول سوي د «واړه او زده کړه» تر نامه لاندې د پروژې په چوکاټ کې په افغانستان او آلمان کې تولیدیږي.

د ډرامو موضوعګاني باید د افغانستان د وګړو د ژوند بیلابیلې برخې انځور کړي. البته دا موضوعګاني د آلمان ږغ راډیو له خوا ټاکل کیږي. هره ډرامه لس لړۍ لري او باید ۱۵۰۰ کلیمې وي. د راډیویي ډرامو پر جزییاتو باندې او دا چې څه ډول څرنګوالي باید ولري، د آلمان ږغ راډیو په هغو معلوماتي سیمینارونو کې وربانديې خبري کیږي، چې د انتخاب سوو لیکوالو لپاره دایریږي. په دغو سیمینارونو کې ګډون حتمي او د دغې پروژې یوه برخه ده.

هره لیکواله او یا هر لیکوال د یوې راډیویي ډرامې لپاره لس لړۍ لیکي. هره اونۍ باید یوه لړۍ په بشپړه توګه ولیکله سي او د E-Mail له لارې اړوند مسوول کتونکي یا مصحح ته واستول سي. کتونکي یا مصحح په هغې کې اړین بدلونونه راوړي اود اړتیا په وخت کې لیکواله او یا لیکوال په خپلې لیکل سوي ډرامې کې ژر تر ژره دغه بدلونونه په پام کې نیسي او په خپل لیکل سوي متن کې بدلون راوړي.

د روان میلادي کال د مې په میاشت کې په کابل کې له څو ورځو ښوونیز سیمینار څخه وروسته لیکوالان د خپل کار د پیل لپاره چمتو کیږي او عملا د ۲۰۱۰ میلادي کال د جولای په لومړۍ نېټه په خپل کار پیل کوي. د هري ډرامې ټولې لس لړۍ باید د ۲۰۱۰ کال د اګست د میاشتې تر نیمایي پورې بشپړې او کتونکو ته وړاندې سي. د کار د بشپړولو لپاره ټاکلې موده په هیڅ ډول سره د اوږدیدو نه ده. که چېرې تر ټاکلې مودې کار بشپړ نه سي، د ترون خلاف عمل ګڼل کیږي.

لیکواله او لیکوال باید څه ډول مسلکي پسمنظر ولري:

۱. د راډیویي تمثیلي کیسو په برخه کې ډیره ښه تجربه درلودل یا د دیالوګ په شکل د لنډو هیجاني کیسو په لیکولو کې تجربه.

۲. د دیالوګ په توګه په ولوله خو «طبیعي» توګه د په زړه پورو او علمي مسایلو د لیکولو توانمندي درلودل.

۳. د تمثیلي او بیا په خاصه توګه د لړۍ لرونکو کیسو په لیکلو کې داسي توانمندي او استعداد درلودل، چې ټولې لس لړۍ یوه د بلې په تعقیب خپله ولوله او هیجان له لاسه ور نه کړي.

۴. په یوې ټاکل سوي موضوع کې په ځانګړې توګه د څېړنې لپاره توانمندي درلودل او حقیقي، رښتیني معلومات په ساده او د پوهیدو په وړ ژبې سره بیانول.

۵. د داسي لیکلو توانمندي درلودل، چې په ساده، روانه، د پوهیدو وړ او په زړه پوري ژبه وي او د راډیو اوریدونکي په ځانګړې توګه ځوان نسل پرې پوه شي او خوند ترې واخلي.

۶. په خپل ټاکلي وخت کې د لیکل سوي متن د سپارلو لپاره دستپلین درلودل او د دې لپاره چمتوالي ښودل، چې د کتونکي او مصحح له غوښتنې سره سم پرته له ځنډ څخه په لیکل سوي متن کې بدلون راوستل سي.

د آلمان ږغ راډیو څه آسانتیاوي تاسي ته برابروي:

۱. په یوه په زړه پوري او نوښت لرونکې پروژه کې د خپلې پوهې او زده کړې د لا پراختیا په موخه د برخې اخیستو لپاره امکانات برابرول.

۲. په دغه پروژه کې د آلمان ږغ راډیو له غوښتنو سره سم په ټاکلي موده کې د سپارل سوو کارونو د بشپړېدو څخه وروسته د ۲۲۰۰,-- (دوه زره دوه سوه) ایرو حق الزحمې ورکول.

۳. د کتونکو او د پروژې د مسوولینو له خوا د کار له پیل تر پای پورې ملتیا.

۴. تر یوې ټاکلي اندازې پورې د مخابراتي لګښتونو په غاړه اخیستل. د هغو لګښتونو په غاړه اخیستل، چې د لیکوالانو او د کتونکو او د پروژې د مسوولینو تر منځ د تماسونو په نتیجه کې رامنځ ته کیږي.

۵. تر یوې ټاکلي اندازې د څېړنې د موادو لګښت په غاړه اخیستل. د بیلګې په توګه: لیکواله یا لیکوال مجبوره کیږي، چې په یوه ټاکلې موضوع کې د خپلې څېړنې لپاره یو کتاب راوپیسي. د دغه کتاب یا د اسي نورو موادو لګښت تر یوې ټاکلي اندازې د آلمان ږغ راډیو په غاړه اخلي.

۶. په کابل کې د دغې پروژې لپاره د زده کړو د یو څو ورځنې سیمینار دایرول. د سیمینار د هغو برخوالو د خوراک او هوټل د مصارفو په غاړه اخیستل، چې له کابل څخه بهر راځي.

د مهربانۍ له مخې خپل غوښتنلیکونه د لیکنو یوه یا دوې نمونې او مسلکي اسناد د ۲۰۱۰ کال د مارچ د میاشتې تر ۲۵ نېټې پورې په دغو E-Mail یا برېښنالیکونو راولیږئ!

هغه لیکوالي او لیکوالان، چې زموږ له خوا ومنل سي، د مارچ تر پایه پورې به ورته خبر ورکړل سي.

د اړیکې پته:

Ibe.afg@dw-world.de
afghanistan@dw-world.de
www.dw-world.de/pashto
Tel.: ۰۰۴۹ ۲۲۸ ۴۲۹ ۴۸۴۲

ستاسو له لیوالتیا څخه ډیره مننه

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

نوی کال، ژوندي ښارونه او مړه مسوولین!!

عجیبه ده، په داسې یوه ښار کې ژوند کوو، چې له یوې خوا یې خلك جنت بولي او له بلې خوا په کې ګڼ مېشت نفوس یې له ګوابنوونو سره مخ دی. ژوند خو په هر اړخ کې ګڼ ستونزې لري، ځینې ستونزې داسې وي، چې مخنیوی یې امکان نه لري، خو ځینې ستونزې بیا داسې هم وي، چې مخنیوی یې په اسانه توګه کېدای شي. مور به دلته هغه لویې او عمده ستونزې یادې کړو، چې مخنیوی یې سل په سلو کې امکان لري، خو له بده مرغه زمور ځینې اړوند مسوولین په لوی لاس د داسې ستونزو زیږوونکي دي او د دې پر ځای چې مخه یې ونیسي، لا ورته لاز پرانیزي.

له دغو ستونزو څخه یوه او مهمه ستونزه، چې د ډېر فوکس وړ ده، د ښار د چاپېریال ککړتیا ده. اوسمهال د کابل ښار هوا تر دومره اندازې خرابه شوې، چې ښځې د ژوند کولو وړتیا یې هم نړدې له لاسه ورکړې ده. په دې برخه کې څه موده وړاندې یونیسکو هم یوه څېړنه کړې وه او په هغې څېړنه کې یې د کابل ښار هوا دومره خرابه ښودلې وه، چې آن د څو فیصده نور اوکسجن په کمښت سره یې د ژوند کولو لپاره ناممکنه بللې وه او ویلي یې وو، چې که چېرې څو فیصده اوکسجن نور هم کم شي، نو ښایي چې په کابل کې ژوند کول له یوه لوی ګواښ سره د ډغرې وهلو په مانا وي.

مور او تاسې شاهدان یو او هره ورځ یې د سر په سترګو وینو، چې څه تېرېږي او هوا څومره خرابه ده. د کابل ښار به پخوا سهار وختي دومره ښایسته او تازه ښکارېده، چې د سړي روح او روان به یې تازه کاوه، خو اوس که سهار وختي هم د کابل ښار هوا ته نظر وګرځي، نو پر ښار یوه توره لوخوړه پرته وي او سړی داسې فکر کوي، چې ښایي تولې شپې په ښار کې اورنه بل شوي او یا هم په ښار کې څه شي اور اخیستی دی. دا خو یې د سهارنۍ هوا حال او تصویر و، چې جنتي هوا هم بلل کېږي، خو که تر سهار وروسته د ورځې هوا ته وګورو، نو پرته له ګرد، دوړو او خاورو بل څه نه ترسترګو کېږي. د ښار په ډېرې جادو او سړکونو کې د خاور او دوړو داسې حال وي، چې ته به وایې سم قیامت را نازل شوی دی. په هر حال دا چې دا هوا د تنفس او ژوند کولو لپاره څومره ګواښونکې ده، څومره ناروغۍ را ولاړوي او کومو ناروغیو ته وده ورکوي، پر سترګو او نورو فزیکي غړو څومره اغېز لري، دا د روغتیایي چارو په څېړنو پورې اړه لري او د دې مسئلې څېړل ډېر کار ته اړتیا لري، خو مور په لنډو کې دومره ویلای شو، چې د کابل ښار هوا اوسمهال سربېره پر ګڼو تنفسي او نورو بېلابېلو ناروغیو، د یونیسکو د رپوټ پر بنسټ پنځوس سلنه د سرطان د خطرناکې ناروغۍ په رامنځته کولو کې هم رول لري او دا داسې ناروغي ده، چې درملنه یې هم اسانه نه ده او بیا د داسې بېوزلو او غریبو خلکو لپاره، چې تولې ورځ د یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو په موخه کار کوي.

مور به له دې بحث نه تېر شو، چې د هوا ککړتیا کومې خطرناکې ناروغۍ زیږوي، پر دې به خبرې وکړو، چې ولې د ښار هوا دومره ککړه او چتله شي، چې د میلیونونو انسانانو ژوند ته ګوابن پېښ کړي، دا هغه پوښتنه ده، چې حل کول یې پورته تولو ستونزو ته خواب وایي.

هره ورځ د کابل ښار جادې او سړکونه تورو لوخوړو پوښلي وي او تولې فضا دود او دوړو پر سر اخیستې وي. دا ځکه چې د کابل پخواني ښاروال صاحب، چې کرزي صاحب ورته د پاك او سپېڅلي انسان لقب هم ورکړ، ګڼ شمېر سړکونه د دې پر ځای کې جوړ یې کړي، وران او خراب کړل، ډېرې جادې یې ونړولې او ان داسې سړکونه یې هم ونړول، چې بالکل روغ او جوړ وو، خو لکه څومره یې چې وران کړل، هومره یې بیا ونه رغول او کوم یې چې ورغول، د هغو هم د موادو کیفیت دومره خراب و، چې تر څو میاشتو وروسته ببرته پر کندوالو بدل شول، چې ښه او غوره ببلګه یې د باغ بالا او سرسبزي څلارۍ سړکونه دي، چې تر قیر کولو څو میاشتې وروسته ببرته پر کندوالو بدل شول.

په هر صورت باید ووایو، چې د ښار هوا تر ډېره بریده د ښار ورانو جادو او سړکونو خرابه کړې، خو له دې سره سره یو شمېر هغه موټرونه چې ډېر دود کوي، د ښار د هوا په خرابوالي کې برخه لري او یو بل مهم څه چې هغه هم د ښار د هوا پر خرابوالي ډېره اغېزه لري، هغه جنراتورونو استعمال دی او دا هم د دې له برکته، چې په اتو کلونو کې هم دولت یوازې د کابل ښار د برېښنا د پوره کولو توان پیدا نه کړ او کومه خیراتي او د بل په واك کې برېښنا یې هم تر اوسه پورې د ښار تولو برخو ته نه ده رسولې او چارې یې ډېرې ورو پر مخ روانې دي. د هوا د چتلوالي ستونزې خو ډېرې دي، خو دا یې هغه عمده ستونزې وې، چې هوارول یې پوره پوره امکان لري.

د یادونې ده، چې د دې هوا په ککړتیا او چتلوالي کې پر ښاریانو سربېره، مسوول چارواکي تر ډېره بریده ګرم او ملامت دي، ځکه که مور د چاپېریال ساتنې یوه غوره او اغېزناکه اداره درلودای او د چاپېریال ساتنې اړوند کاري ارګانونه مو درلودلای، نو نن به د کابل ښار هوا دومره نه خرابېده، چې ژوند یې ګواښلی. دا سمه ده، چې مور د چاپېریال ساتنې اداره لرو، خو تش په نامه، مور ښاروالي لرو، خو تش په نامه، مور همداسې نورې اړوندې اداري لرو، خو تش په نامه!!!

آخر ولې او د څه لپاره؟! نو د خدای په پار، نور دې مسوول چارواکي سر ګرېوان ته ټیټ کړي، اخر دوی څه کوي او د څه لپاره کار کوي او چا ته یې کوي. نو دا دی اوس چې نوی کال هم پېل شو او نوي هیلې هم ورسره جوخټې را پورته کېدونکې دي، دولت ته ضرور ده چې تر هرڅه ډېره پاملرنه چاپېریال ساتنې او هوا ته واړوي او خپله ډېره بودیجه د هوا او چاپېریال پر ساتنې ولګوي او د دغې لوبې او خطرناکې ستونزې په مخنیوي کې تر ورستۍ بریده هلې ځلې وکړي او تر ګردو اړینه دا، چې اړوندو ادارو ته داسې مسوولان وټاکي، چې ملي او افغاني درك او احساس ولري، داسې څوك نه وي، چې ورځ یې په کابل او شپه یې په دوبۍ او یا بل بهرني هېواد کې وي، ځکه هغوی د ملت له درد او حالت سره اشنایي نه لري، هغوی یوازې له پیسو او عیش سره اشنایي لري او نور هېڅ شی ورته ارزښت نه لري. په دې توګه دې دولت د چاپېریال ساتنې مسئله ډېره جدي تعقیب کړي، ځکه د انساني ژوند تولې ناخوالې له همدې ستونزې سره تړلې دي.

نیالګي به وکرل شي، خو للمي

یا: په سپاره کرلي، په خدای سپارلي

میاګل اروال

په دې ورځو کې چې زمور هېواد او هېواد وال د نوي کال په درشل کې دي دولتي کرنیزې اداري او د ښاروالیو څانګې په ډېرو تبلیغاتو سره اعلانوي چې سږ کال به څه ناڅه ۲۵۰۰۰۰۰ میلیونه نوي نیالګي په ټول هېواد کې کښول شي. مور همدغه نېک کار چې هر کال پېل بیا پاتې شي څېړل دي.

دغه ګټور کار دې ته پاتې کېږي چې پېل لري خو پایله نه، یا په بله ژبه هر کال دومره نیالګي اېښودل کېږي، چې داخبره د دولتي اړوندو ادارو او زمور د هېواد والو په هکله دا خبره څرګندوي چې: په سپاره کرلي، په خدای سپارلي.

زمور ګران هېواد افغانستان د مساحت له مخې ۶۵۲۲۲۵ کېلو متره پراخوالی لري، چې درېیمه برخه یې غرونو او سیندونو نیولې ده، که څه هم د غو غرونو زمور د خاورې ډېره برخه نیولې، خو د اوبو له پلوه زمور هېواد پر څلورو حوزو وېشي او زمور سیندونه له همدغو غرونو څخه سرچینه اخلي. ددې ترڅنګ د همدغو غرونو موجودیت زمور د هېواد پر اقلیم هم اغېزه لري او د ځینو موسمي رطوبتونو او بارانونو مخه نیسي. دا عوامل او دا چې زمور هېواد په وچو پورې محاط دی، د کراچۍ له بنده ۱۶۳۳ کیلومتره او د عمان له خلیج نه ۳۹۰ کیلومتره فاصله یا واټن هم مور ته د سوداګرۍ په ډګر کې ډېرې ستونزې را ولاړوي.

زمور د وګړو په سلو کې ۸۵ وګړي پر کرکېله بوخت دی او په سلو کې ۸۰ یې په کلیو او باندوکې ژوند کوي، د هېواد په سلو کې ۱۳ څمکه د کرکېلې لپاره مساعده ده، چې له دغه شمېرنه یې ۴۵.۱۲ میلیونه جریبه څمکه په للمي توګه کرل کېږي.

که مور د غه په دغه هېواد کې له ازله تر میر افضله ستونزو ته کتنه وکړو، ډېر ځل مور د وچکالیو له کړاوونو سره هم مخ شوي یو او په دې لړ کې د دولتي اداره او زمور د هېواد والو بې توپېري هم دغندلو ور دي. په دې مانا چې هر کال په پېل کې د سړکونو او واټونو پرغاړو او یا د ځینو پارکونو د جوړولو په نامه میلیونونه نوي نیالګي اېښودل کېږي. کله چې دغه نیالګي کېښودل شي او د ښارو والیو مسوولین ورسره په مخه ښه وکړي، یانې داچې بیا یې قسم کړی وي، چې نور نو زمور مسوولیت بشپړشو. نه یې د خړوبولو غم خوري او نه یې د ساتنې او څارنې په فکر کې وي. دغه راز د سړکونو غاړو ته نړدې هستوګن هېوادوال موهم د غه نیالګي پردي بولي. نه اوبه ورکوي او نه یې د ساتنو او پاللو په فکر کې وي. له بده مرغه چې دوی دغه نیالګي پردي بولي او دا فکر نه کوي چې که دغه مثمري، غیرمثمري ونې او زینتي بوټي که شنه شي، خړوبه شي او وساتل شي، د دوی د کورونو مخې به هم ښکلي شي او خپله به هم ټولو خلکوته ښه ښکاره شي.

د پورته یادونو ترڅنګ غواړم لاندې ټکوته د کرنې د وزارت، ښاروالیو او د ښاریانو پاملرنه را وګرځوم:

- دولتي اداري پرته له دې چې د یوې سیمې د خاوري نوعیت وګوري چې کومې ونې او بوټي په کې د کرلو او ودې وړ دي، له دغې څېړنې پرته تش په نامه بوټي کري، ګواکي چې هغوی خپله اجاره پوره کوي.
- د نیالګیو او بوټو د ودې لپاره دیخو او تودو سیمو څېړنه هم نه کوي.
- د دولت په سطح په هر ولایت کې د هغو د خاورې او هوا په پام کې نیولو سره باید د نیالګیو فومه او ذخیره ولري.
- که یې له بازار هم تهیه کوي باید د غه پورته ټکي په پام کې ونیسي.
- دولتي اداري باید د ونو او نیالګیو د اېښودلو ترڅنګ د هغوی د خړوبولو پروګرام ولري.
- نیالګي باید د یوې منظمې نقشې له مخې کېښودل شي، یانې دا چې: لومړی باید د پارکونو نقشې جوړې شي او بیا په کې ونې او بوټي وکرل شي. مثال: د کابل ښار د احمد شاه بابا مېنه په نقشه کې هر بلاک ته پارکونه په نظر کې نیول شوي دي، خو د ښاروالي مسوولین له پارکونو څخه ځنګلونه جوړ وي. غیرمنظم او د پارکونو له نقشې پرته نیالګي ږدي. مور نه پوهېږو چې دوی پارکونه جوړوي که ځنګلونه. دا کار د زینتي اړخ پرځای به سبا د فسق او فساد مرکزونه وګرځي.
- د کرنې او ښاروالي اداري باید د سیمو د قومي مشرانو، دیني علماوو، د ګذر وکیلانو، د ښوونځیو له ښوونکو او زده کوونکو څخه د نیالګیو او پارکونو په ساتلو کې مرستې وغواړي. دولتي اداري او امنیتي څانګې دې له وګړو څخه د مرستو لپاره لیکلې ژمنې واخلي.
- د کلیو، بانډو او ښارونو اوسېدونکو ته لازمه ده، چې د خپل هېواد په سمسورولو کې باید خپل مسوولیتونه تر سره کړي او په دې برخه کې دې له بې توپیري څخه ډډه وکړي.
- دولتي اداري او دسیمو هستوګن دې په ګډه د تېرو کلونو د نیالګیو څرنګوالی وڅېړي او په دې برخه کې دې د ژوند کولو د محیط اداري ته هم د ګډون بلنه ورکړي.
- د هېواد په هغو غرونو کې چې طبعي ځنګلونه لري، د هغوی د له منځه وړلو څخه دې ډډه وشي.
- پارکونه او عام سړکونه ملي شتمني ده، چې ساتل یې ملي احساس او ملي مسوولیت غواړي.

د کرنې وزارت دی د نیالګیو پروسه د هېواد ولایتونو، ولسوالیو او کلیوته و غځوي. دا ځکه چې کلیوال کروندګر خپل کرنیز محصولات ښارونو ته ورکوي، هغوی هم د مرستو مستحق دي.

سال ۸۸؛ این، موضوع انشا نیست

محمد سرابی

سال ۱۳۸۸ را چه طور گذراندید؟ البته این موضوع انشا نیست.

ولی نکته یی است که خیلی از ماها در اواخر سال از خود می پرسیم. یعنی هر وقت به سال نو می شویم، فکر می کنیم که امسال چه کارهایی کردیم و چه اتفاقاتی برای ما افتاد تا ببینیم، سال خوب و موفقی را پشت سر گذاشته ایم یا نه.

همین نگاه را به جهان هم می توان داشت و این سؤال را از منظر جهان هم می شود، طرح کرد. امسال در صفحهٔ جهان، به بعضی از اتفاق های مهم دنیا پرداختیم و لابد یادتان هست که سال ۸۸ از یک طرف با بحران اقتصادی و از طرف دیگر با آنفلوانزای خوکی همراه بود. درست مثل کسی که وقتی مشکل مالی دارد، بیمار هم می شود. ولی خوب جهان از هر دو تای اینها رد شده و در حال ورود به سال ۱۳۸۹ است. کار دیگری که در اواخر سال می توان انجام داد، تحلیل، برآورد و حدس زدن وضعیت و اتفاق های سال بعد است. مثلاً اینکه مسایل بزرگ سیاسی و بین المللی چه سرانجامی خواهند یافت؟ شما هم می توانید، این کار را بکنید. به مهم ترین رویدادها و بحران های مهم سال ۸۸ که در بارهٔ شان شنیده و خوانده اید، فکر کنید و حدس بزنید، وضعیت جهان در این زمینه، در سال ۸۹ چه خواهد شد؟

ثور ۱۳۸۸- دولت سریلانکا پس از چند دهه درگیری، از شکست نهایی جدایی طلبان تامیل خبر داد. بنا به این خبر، رهبر شبه نظامیان تامیل کشته و پایگاه های جنگلی آنها تصرف شد.

سنبله ۱۳۸۸- حزب لیبرال دموکرات جاپان بعد از ۵۴ سال حضور در رأس قدرت، از حزب دموکرات شکست خورد و هاتویاما به عنوان صدراعظم جدید این کشور انتخاب شد.

عقرب ۱۳۸۸ - حامد کرزی مجدداً رییس جمهور افغانستان شد. ابتدا کرزی به عنوان برندهٔ انتخابات در مرحلهٔ اول معرفی شد با اعتراض دیگر نامزدان و بالاخره با اثبات ناسالم بودن روند انتخابات در برخی منطقه ها، انتخابات به مرحلهٔ دوم کشیده شد؛ اما

عبدالله عبدالله از ادامهٔ ص۳

د حزب اسلامي پلاوی په کابل ...

د امتیاز نه غواړي، بلکې هغه څه غواړي چې د ولس هېواد په ګټه وي.»

هغه په دې اړه، چې د دې پلاوي خبرې څومره بریالي دي؟ څه ونه ویل، خو زیاته یې کړه چې کېدای شي دا د دې څو میاشتې وخت واخلي.

د ښاغلي زیاتوي چې د دې شپږ کسیز پلاوي مشري د حزب اسلامي د سیاسي چارو مسوول قطب الدین هلال کوي چې له امریکا کې د حزب اسلامي استازی ډاکټر داود عابدي، په فرانسه کې د دې ګوند استازی امین مریم د دې حزب پخوانی ویاند قریب الرحمن سعید او د حکمتیار زوم ډاکټر غیرت بهیر د دې پلاوي غړي دي.

هغه د خورو معلوماتو له ورکولو پرته زیاته کړه چې د دې حزب بل غړی علي انصاري هم په دې پلاوي کې شامل دی، خو دا مهال په کابل کې نه شته.

د دې حزب ویاند انجنیر هارون زرغونړمه ورځ وویل، چې یاد شوي پلاوي د افغانستان د کشالې دحل لپاره د حزب اسلامي نوې ۱۵ ماده ییزه طرحه له ځان سره کابل ته وړې ده.

د روان میلادي کال د جولای په میاشت کې له افغانستان څخه د بهرنیو خواکونو د وتلو پیل او په شپږو میاشتو کې یې بشپړېدل، اوربند، امنیتي چارې افغان خواکونو ته سپارل او په ۱۳۹۰ هجري لمریز کال کې د جمهوري ریاست، ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو تر سره کېدل، د دې حزب د یادې شوې طرحې له مهو ټکو څخه دي.

دغه راز په یاده شوې طرحه کې، چې پژواک خبري اژانس ته رسېدلې ده، راغلي چې لومړی، منتخبه شورا به دا حق ولري، چې د دریو لورو (حزب اسلامي، دولت او طالبانو) له خوا اعلان شوي اساسي قوانین وڅېړي او د هېواد د اساسي قانون په اړه وروستی پرېکړه وکړي. تر دې دمه په دې اړه د افغان دولت رسمي سرچینو څه نه دي ویلي.

ایران روزنه، وسله او تجهیزات ...

د دې مطلب مهم ټکي فرانسې خبري اژانس رااخیستي، چې لنډیز یې دلته لولئ:

د وسلوالو طالبانو دوو قوماندانانو سندې ټایمز ورځپاڼې ته ویلي، ایران په سلګونو وسلوال طالبان روزلي، چې په افغانستان کې د ناټو عسکر ووژني.

د طالبانو دغو قوماندانانو خپل نومونه نه دي اخیستي، خو سندې ټایمز ورځپاڼه د دوی له قوله زیاتوي، ایراني چارواکو دغو وسلوالو ته د ایران په جنوب ختیځ کې د درېیو میاشتو لپاره په دښتو کې تعلیم ورکوي.

دوی ته دا ورښوول شوي، چې ګډ کمینونه څنګه پلان کړي او د سړکونو پر غاړه چاودېدونکي مواد څنګه ځای پر ځای کړي. دغو چاودنو په افغانستان کې په لسګونو بهرني عسکر وژلي دي.

یوه طالب قوماندان ورځپاڼې ته ویلي، په دې وروستیو کې چې د پاکستان د پوځ له خوا پر وسلوالو طالبانو فشارونه زیات شوي او د دوی ځینې مشران ونیول شول، طالبان دې ته اړ شول چې ایران ته مخه کړي او له دې هېواده مرسته او روزنه ترلاسه کړي.

یوه طالب قوماندان ویلي: "په پاکستان کې پوځ پر طالبانو فشار زیات کړی، اوس دا ستونزمنه ده چې هلته د پخوا غوندې د استوګنې لپاره خوندي ځایونه پیدا کړو، زما په نظر زمونږ زیاتره جنګیالي به د روزنې لپاره سړکال ایران ته لاړ شي."

د ازادي راډیو د رپوټ له مخې، په وردګو کې د طالبانو یوه قوماندان په دې وروستیو کې وویل: "د ایران له خوا دغه روزنه ډېره ګټوره راته تمامه شوه، په خاص ډول د برید او تېښتې تخنیکونه مې اوس زده کړي دي."

دغو دوو کسانو ویلي دي، ایران دوی په وسلو هم سمبال کړي، دوی ویلي دي چې زیاتره وخت کوچیانو ته پیسې ورکوي، چې دوی بیا په بدل کې د ایران او افغانستان ترمنځ په پرتو دښتو کې مهمات، ماینونه او مخدره مواد قاچاقوي.

په راپور کې راغلي، د ایران ولسمشر محمود احمدي نژاد کابل ته په خپل سفر کې په ښکاره له ولسمشر حامد کرزي څخه خپل ملاتړ اعلان کړ، خو د امریکا او برېتانیا چارواکو بیا ایران د طالبانو په ملاتړ تورن کړی دی.

چشم اندازی بر وضع رسانه های ...

چالش های عمده بر سر راه رسانه ها:

۱- تمویل: نزدیک به کل تلویزیون ها و رادیوها از منبع های خارجی تمویل می شوند. این وضع سبب شده است که رسانه ها از آزادی لازم بر خوردار نباشند و ناچار سلیقه و هدف های منبع تمویل کننده را لحاظ کنند. اگر چه بر طبق مادۀ دهم بند ۴ قانون رسانه های همگانی منبع تمویل باید روشن باشد و این منبع نباید خارجی باشد؛ اما هنوز حکومت افغانستان نتوانسته است، موفق به ردیابی منبع تمویل رسانه ها شود و رسانه ها همچنان مدعی اند که از داخل تمویل می شوند.

۲- دسترسی به اطلاعات : اگر چه مطابق قانون رسانه های همگانی افغانستان و بر پایۀ اصل های دموکراسی، دولت مکلف است که اطلاعات را در اختیار خبرنگاران قرار دهد، اما دولت گاه مانع این حق می شود و گاه اطلاعات تحریف شده را در اختیار خبرنگاران قرار می دهد.

۳- استفاده از ژورنالیزم زرد: اکثر رسانه های کشور به خاطر جلب بیشتر مخاطب، از ژورنالیزم زرد استفاده می کنند. افترا، توهین، هتک حرمت، بزرگنمایی و کوچک نمایی از روش هایی است که رسانه ها به کار می برند.

منبع :

۱- مصاحبۀ شجاع الدین ضیایی معین آبیاری وزارت انرژی و آب در کنفرانس خبری ماه دلو ۱۳۸۸.

۲- شکوفه ، پایان نامۀ تحصیلی ، پوهنځی ژورنالیزم پوهنتون کابل ، ۱۳۸۸.

۳- روزنامۀ چراغ، شمارۀ روز پنجشنبه ۲۲میزان ۱۳۸۸.

۴- روزنامۀ ۸صبح ، شمارۀ روز چهار شنبه ۲۶حوت ۱۳۸۸.

سال ۸۸؛ این، موضوع انشا ...

رقابت انصراف داد و به این صورت، کرزی دوباره به عنوان رییس جمهور سوگند خورد.

قوس ۱۳۸۸- فلم علمی-تخیلی سه بعدی «آواتار» به نمایش در آمد. جیمز کامرون کار گردان این فلم ریکارد فروش فلم قبلی خود «تایتانیک» را شکست. مفاهیم بسیاری مانند جنگ، استعمار، محیط زیست و عشق در این فلم گنجانده شده است. «آواتار» تنها فلمی است که مرز فروش ۲ میلیارد دالر را پشت سر گذاشته است.

جدی- اجلاس سازمان ملل در بارۀ حفظ محیط زیست و برنامه ریزی برای جلوگیری از گرم شدن کرۀ زمین، در کوپنهاگ (دنمارک) به نتیجۀ مشخصی نرسید. سران و مسوولان بلندپایۀ ۱۹۲ کشور جهان در این اجلاس شرکت داشتند. فعالان محیط زیست از این نشست ناراضی بودند.

جدی ۱۳۸۸- زلزلۀ شدیدی درکشور هایتی یک فاجعه بزرگ انسانی را در اواخر سال رقم زد. برآوردها از کشته و مفقود شدن بیش از ۲۰۰ هزار نفر حکایت داشت. اما چندی بعد در همان قاره و در کشور شیلی زلزله یی با قدرت ۸/۸ درجه در مقیاس ریشتر اتفاق افتاد که پنجمین زلزلۀ بزرگ دنیا به‌شمار می آید؛ منتها تلفات جانی آن بسیار کمتر (حدود ۸۰۰ تن) بود.

حوت ۱۳۸۸- المپیک زمستانی ۲۰۱۰ که به طور رسمی با نام «بازی های المپیاد زمستانی بیست و یکم» شناخته می شود، با رقابت ورزشکارانی از ۸۲ کشور جهان در شهر ونکوور، ایالت بریتیش کولمبیا در کشور کانادا برگزار شد. نزدیک به ۲۵۰۰ ورزشکار در این مسابقات به رقابت پرداختند.

پایگاه بگرام به جای گوانتنامو

روزنامۀ لاس آنجلس تایمز در گزارشی اعلام کرد که کارمندان کاخ سفید در حال بررسی نگهداری مظنونان درپایگاه نظامی بگرام در افغانستان هستند.

به گزارش لاس آنجلس تایمز به نقل از مقام های ارشد امریکایی که نخواستند نام شان فاش شود، آمده است که این اقدام با مقاومت دولت اوباما مواجه شده است.

در ادامۀ این گزارش آمده است: قوماندان ارشد امریکا و نیروهای ناتو در افغانستان، جنرال استنلی مک کریستال و دیگر مقام های ارشد امریکا شدیدا با این اقدام، مخالفت کرده‌اند.

براساس گزارش خبرگزاری فرانسه، به نوشتۀ این

روزنامه، نگرانی این مقام ها آن است که گسترش مراکز بازداشتی امریکا در پایگاه هوایی بگرام ایجاد ثبات در افغانستان را مشکل تر کند.

اما مقام های امریکایی گفته‌اند که دولت امریکا تنها مکان های اندک دیگری برای نگهداری و بازجویی زندانیان خارجی دارد؛ بدون اینکه به آنان اجازه دهد، به سیستم قضایی امریکا دسترسی داشته باشند.

بارک اوباما، رییس جمهور امریکا پیش از این وعده داده بود که مرکز بازداشت جنجالی گوانتنامو درکیوبا را تعطیل می کند، اما وی برای حل سرنوشت زندانیان این زندان دچار مشکل شده است.

در حالی که دولت امریکا مکانی برای فرستادن زندانیان در خارج از امریکا ندارد، مجبور است، متوسل به تحویل این مظنونان به دولت های خارجی یا حتا کشتن آنها شود.

روزنامۀ تایمز نیز نوشت: سال گذشته نیروهای مخصوص امریکا صالح علی صالح بنهان را که به القاعده مرتبط بود، در حمله یی هلیکوپتری در جنوب سومالیا کشتند. مقام های دولتی بر سر زنده به دام انداختن وی گفتگو کردند، اما در نهایت تصمیم به کشتن وی گرفته شد؛ زیرا محلی برای نگهداری وی نبود.

د مولوي خالص په فامیلیو کې یو ستر ډله ییز قبر وموندل شو

د جلال اباد ښار سوېل لوري ته د خالص فامیلیو په سیمه کې یو لوی ډله ییز قبر وموندل شو، چې په اټکلیز ډول په کې زر کسان خښ شوي دي.

د مولوي خالص یا نجم الجهاد فامیلي د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار سوېل لوري ته په نهه کیلومتری کې موقعیت لري.

یاد شوی ډله ییز قبر د دغو فامیلو په څلورمه حصه کې د «اسامه بن لادن» د کورونو په ساحه کې د دوو غونډیو ترمنځ موندل شوی دی.

د سیمې یو شمېر اوسېدونکو او قومي مشرانو د وري پر ۲مه، د ډله ییز قبر په ساحه کې معلومات ورکړل.

د فامیلیو د درېیمې حصې یوه قومي مشر حاجي عبدالواحد وویل، چې په ۵۰۰ مترو مربع ساحه کې جوړ شوي په دې ډله ییز قبر کې په اټکلیز ډول ۱۰۰۰ کسان خښ کړل شوي دي.

هغه زیاته کړه: «دغه خلک مجاهد، علما او روحانیون دي، چې په ۱۳۵۷ لمریز کال کې د غویي تر کودتا وروسته د وخت د کمونستانو له خوا په بې رحمۍ سره وژل شوي دي.»

دی وایي، چې یو شمېر کسان په ولاړه ژوندي درول شوي او بیا پرې خاورې اچول شوي او یو شمېر نور یې یا حلال کړل شوي او یا هم په ګولیو وېشتل شوي دي.

حاجي عبدالواحد په دغې ساحه کې یو متر ژور او څلور مترې پلن د اوبو ډنډ هم وښود، چې پر دې هوالونو یې د وینو نښې وې، چې دده په وینا، په دې ډنډ کې لومړی خلک حلالېدل او بیا یې په ډله ییز قبر کې خښول.

د لغمان د الینګار ولسوالۍ اصلي اوسېدونکی، قومي مخور او پخوانی جهادي قوماندان عبدالله صداقت هم، اوس د مولوي خالص په فامیلیو کې اوسېږي.

هغه د قبر په ساحه کې د خښ کړې شویو کسانو زنګنونه، د سر کوپړۍ، د سر وېښتان او د بدن ځینې نورې برخې وښودلې.

صداقت وایي، چې پخواني جهادي رهبر مولوي محمد یونس خالص په خپله له دې ساحې څخه لیدنه کړې وه او خلک یې له دې سیمې څخه د خاورو وړلو او کنستلو څخه منع کړي وو.

ده زیاته کړه: «تراوسه دولت په دې اړه هېڅ اقدام نه کړی، مور قومي مشرانو له خپلو شخصي جیبونو څخه سل زره افغانۍ راټولې کړې او غواړو چې له دې ساحې څخه دېوال راتاو کړو.»

د ننګرهار د امنیه قوماندانۍ ویاند سمونوال عبدالغفور پژواک اژانس ته وویل، چې دوی تراوسه په دې اړه رسمي معلومات نه درلودل او لټون پورې چارواکي په جریان کې اچولو سره به ډېر ژر په دې اړه جدي اقدامات وکړي.

۴۰ وسلوال طالبان او ۷ پولیس ووژل شول

د هلمند ولایت په موسی کلا ولسوالۍ کې د دولت او مخالفینو ترمنځ په سختو نښتو او جګړو کې ۴۰ وسلوال طالبان او ۷ پولیس وژل شوي او ۱۸ پولیس نور ټپیان دي.

دغه جګړه دري ورځې مخکې د یادې شوې ولسوالۍ په شاه کارېز سیمه کې پیل شوې ده. د موسی کلا ولسوال ملا عبدالسلام د وري پر ۲مه وویل، چې له تېرو درېیو ورځو راهیسې د یادې شوې ولسوالۍ په شاه کارېز سیمه کې د دولتي لوري او وسلوالو طالبانو ترمنځ جګړه روانه وه. هغه زیاته کړه، چې دغه سیمه د وسلوالو طالبانو تر ولکې لاندې راغله او دولتي ځواکونه تري په شا شول. د نوموړي په وینا، د دواړو لوریو ترمنځ په جګړه کې شاوخوا ۴۰ وسلوال طالبان وژل شوي او دغه راز له دولتي لوري ځخه ۷ پولیس وژل شوي او ۱۸ نور ټپیان دي. ولسوال وایي، شاه کارېز یوه ستراتېژیکه سیمه وه، چې د موسی کلا په امنیت کې یې ځانګړی رول درلود. ده وویل، چې پر یاده شوې سیمې د باغران، بغني، کجکي، سنګین او دهراوود لارې راوتلي او له تېرو څو کلونو راهیسې دغه لارې پر مخالفینو تړلې وې. د هغه په خبره، دا چې دغه سیمه د دولت په لاس کې وه، نو ځکه موسی کلا هم پرمختګ وکړ، خو په دې وروستیو کې وسلوالو طالبانو د شاه کارېز د نیولو په موخه له پوره زور څخه کار واخیست. خو د وسلوالو طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي، په دې جګړه کې یوازې د خپلو دوو ملګرو وژل کېدل منلي. د پژواک د رپوټ له مخې، نوموړي وویلي، چې په دې جګړه کې یې لسګونه دولتي سرتېري وژلي او پنځه عرادې موټر یې هم نیولي دي. نوموړي دغه راز وویلي، چې شاه کارېز سیمه دا مهال د هغوی تر ولکې لاندې ده او دولتي ځواکونه یې له خپلو پوستو په شا کړي دي.

رییس جمهور کرزی، مذاکرات صلح و آزمون های ...

اعتقاد بر این است، که آی. اس. آی، یا سازمان استخباراتی پاکستان، به همکاری امریکا در دستگیری های اخیر دخیل بوده است و بسیاری از افغان ها نسبت به پاکستان بد گمان بوده، به این باوراند که پاکستان قصد بی ثباتی هر نوع روند صلح را در این کشور دارد. ودیر صافی، یکی از استادان پوهنتون کابل در این مورد می گوید: "پاکستان می خواهد نشان دهد که هر گاه آن کشور در روند مذاکرات صلح و امور افغانستان دخیل نباشد، قادر است، تا به هر پلان صدمه برساند و مشکلات بزرگ را خلق کند." به گفتۀ صافی، پاکستان به این باور است که نفوذ هند، رقیب آن کشور در افغانستان در حال افزایش است و در حین زمان کرزی از عبدالله پادشاه عربستان سعودی، خواهان میانجیگری با طالبان شده است. در همین حال، سیامک هروی، معاون سخنگوی رییس جمهور کرزی، نیز اذعان نموده که دستگیری ها در پاکستان «تاثیر منفی» بالای روند صلح با طالبان داشته است.

به نوشتۀ فرانسپرس، اظهارات هروی اولین تایید رسمی حکومت مبنی بر تماس با طالبان برای پایان دادن به خشونت های ۹ سال گذشته است. کای آیدی، نمایندۀ سابق سازمان ملل در افغانستان نیز گفته است که دستگیرها در پاکستان، مذکرات سری را با طالبان متوقف ساخته است. احمد سعیدی دیپلومات سابق در پاکستان، گفته است، ملا برادر حد اقل در ۵ ماه اخیر با کابل در تماس بود، و دستگیری وی این پیام را می رساند که پاکستان نمی خواهد، از پروسه دور باشد. در همین حال، موید یوسف، مشاور بخش آسیای جنوبی انستتیوت صلح امریکا یا یواس آی پی می گوید، تمام بازیگران باید یک موضوع را درک کنند و آن اینکه هر گاه پاکستان از پروسه دور باشد، نمی توان طالبان را به میز مذاکره و مصالحه کشاند.

چشم اندازی بر وضع رسانه های همگانی افغانستان در سال ۱۳۸۸

احمد ضیاء رفعت

وضع عمومی: در افغانستان ۲۵ شبکهٔ تلویزیونی، بیش از ۹۰ شبکهٔ رادیویی، نزدیک به ۲۰ روزنامه و ده ها جریده و مجله فعالیت نشراتی دارند.

در سال ۱۳۸۸، تلویزیون های سپهر ، ستاره، نگاه و یک تازه به فعالیت آغاز کرده اند و تلویزیون باختر و دعوت در مرحلهٔ نشرات آزمایشی قرار دارند. به جز تلویزیون ملی و معارف، دیگر تلویزیون ها غیردولتی می باشد. بیشترین شبکه های رادیویی غیردولتی است. حدود ۳۵ شبکهٔ رادیویی در کابل نشرات دارند؛ در حالی که در هر یک از ولایت های دیگر، یک تا دو رادیوی غیردولتی فعالیت دارد. شمار بیشتر رادیوها توسط نهادبین المللی به نام انترنیوز، تمویل می شود.

نیم روزنامه ها به دولت تعلق دارد که انیس ، هیواد و اصلاح در کابل و شماری دیگر در ولایت ها به نشر می رسد .(۱) هر چند آمار دقیقی از نشر مجله ها وجود ندارد، اما حدود ۱۵۰ مجله در کشور منتشر می شود که دو سوم آن ها دولتی می باشد. با توجه به آمار رسانه ها، می توان گفت که شاید حدود ده هزار نفر در رسانه های افغانستان مصروف کار باشند.

میزان دسترسی به رسانه ها:

از میان رسانه های همگانی مردم به رادیو دسترسی بیشتری دارند؛ زیرا این وسیله بسیار ارزان و به علت کوچکی، به آسانی قابل حمل و نقل می باشد. تلویزیون از لحاظ قابل دسترس بودن، پس از رادیو قرار دارد؛ زیرا بر اساس آمار وزارت انرژی و آب، حدود ۲۰ درصد مردم به انرژی برق دسترسی دارند؛ (۲) پس می توان گفت که به همین تعداد، قادر به استفاده از تلویزیون می باشند. در سال ۱۳۸۸ نزدیک به سه صد میگاوات برق وارداتی وارد شبکهٔ برق افغانستان شده است – که این رقم میزان برق را به دو برابر افزیش داده است – (۲)با این حساب می توان گفت که باید شمار استفاده کننده گان تلویزیون در سال ۱۳۸۸، به دو برابر افزایش یافته باشد.

رسانه های همگانی چاپی به علت پایین بودن شماره گان و متمرکز بودن بیشتر آن ها در کابل و پایین بودن میزان باسوادان در کشور ، از مخاطبان کمتری در مقایسه با رادیو و تلویزیون برخوردار است. به طور مثال، شماره گان روزنامه ها بر روی هم از ۵۰ هزار نسخه در روز تجاوز نمی کند؛ یعنی برای هر ۵۰۰ نفر یک نسخه روزنامه. در سال ۱۳۸۸، شماری از روزنامه های آزاد، علاوه برکابل در دو ولایت دیگر کشور نیز، به صورت همزمان به نشر می رسد و این تجربهٔ تازه یی در روزنامه نگاری افغانستان می باشد.

کیفیت نشر:

در افغانستان تلویزیون اختصاصی تا حالا بر روی کار نیامده است. هر شبکهٔ تلویزیونی به نشر برنامه های متنوع خبری، تفریحی و آموزشی می پردازد. بعضی از تلویزیون ها مانند: تمدن، نور و فردا بیشتر به نشر برنامه هایی با محتوای دینی می پردازند؛ ولی دیگر تلویزیون ها به نشر برنامه هایی اهمیت می دهند که جوان ها بیشتر به آن ها تمایل دارند؛ مانند موسیقی، فلم هایی از تولید های هالیود و بالیود، سریال های هندی و برنامه های طنزی.

برنامه های تلویزیون ها اکثر با هم شباهت دارد و تنها تفاوت در نام برنامه هاست. بیشترین این برنامه ها به تقلید از شبکه های تلویزیونی هند و کشور های غربی تهیه می شود. حجم برنامه های تولیدی حد اکثر یک چهارم برنامه های نشراتی را در بر می گیرد. این را هم اضافه کنیم که همهٔ تلویزیون ها در هر ۲۴ ساعت، هر برنامه را کم از کم دو بار نشر می کنند؛ یعنی دوازده ساعت برنامه های تازه برای ۱۲ ساعت دیگر، به تکرار نشر می شود. در سال ۱۳۸۸ تولید سریال های تلویزیونی مورد توجه بعضی از تلویزیون ها مانند طلوع و آریانا قرار گرفته است. دوبلهٔ فلم ها و سریال ها حرفه یی تر از گذشته صورت می گیرد و نشانهٔ پیشرفت های خوبی در این زمینه دیده می شود. بیشتر تلویزیون ها از طریق ماهواره در سراسر افغانستان و بخش هایی از جهان قابل دریافت شده است. هنوز تناسب لازم میان برنامه ها رعایت نمی شود. موسیقی، فلم، سریال و برنامه های سرگرم کننده که زیر نام برنامه های تفریحی قابل تعریف می باشد، بیشترین ساعت های نشر تلویزیون ها را به خود اختصاص داده است. برنامه های سیاسی مانند خبر، گزارش، میزگرد و مصاحبه های اختصاصی جایگاه دوم و نشر برنامه های آموزشی در جایگاه سوم قرار دارد. این در حالی است که افغانستان به علت فقر سواد و دانش و پایین بودن کیفیت معارف، نیاز به نشر برنامه های علمی و آموزشی بیشتری دارد. معارف تنها تلویزیونی است که به نشر برنامه های آموزشی مربوط به معارف می پردازد، اما این کافی نیست. رسانه های غیردولتی به سبب انتفاعی بودن، برای نشر برنامه های آموزشی که تصور می شود به اندازهٔ برنامه های تفریحی مخاطب ندارد، علاقهٔ چندانی نشان نمی دهند؛ برای حل این مشکل، دولت وظیفه دارد، با حمایت مالی از این رسانه ها، زمینهٔ رشد نشر برنامه های آموزشی را فراهم کند.

شیوهٔ تصویر برداری و امور گرافیک کمتر از کیفیت لازم بهره ور است و علت آن، کمبود کارکنان تخصصی می باشد. بیشتر تلویزیون ها و رادیو ها تا حدی برای پر کردن این خلیگاه از کارکنان فنی خارجی استفاده می کنند.

وضع کیفی رادیو ها هم شبیه به تلویزیون ها می باشد. جز اینکه رادیو این امکان را برای کارکنان فنی مساعد کرده است که کار ادیت(ویرایش) آسانتر صورت گیرد و بخشی از ضعف های مصاحبه کننده گان و مصاحبه شونده گان و گزارشگران هنگام ادیت کاهش داده شود، کاری که در تلویزیون به آسانی نمی تواند، صورت گیرد؛ زیرا تصویر متناسب به صدا نمی تواند، ادیت و مونتاژ شود.

دشواری در تلفظ درست واژه ها و کندی در خواندن متن در بیشتر تلویزیون ها و رادیو ها بر گوشنوازی خلل ایجاد می کند. یکنواخت بودن متن های خبر ها و گزارش ها سبب شده است که این رسانه ها نتواند، تاثیر عمیق بر بیننده و شنونده بر جای بگذارد. متن خبر و گزارش اکثر توسط گوینده گانی خوانده می شود که از زبان و محتوا آگاهی بسیار کمی دارند.

رسانه های چاپی از لحاظ صفحه آرایی، انتخاب عنوان های جذاب، بازتاب خبرهای تازه، املا و انشا با دشواری هایی به همراه است. به گونهٔ مثال؛ یکی از روزنامه ها نوشت: "وزیر داخلهٔ هند روز چهار شنبه مدعی شد، پاکستان در جامو و کشمیر ضمن آموزش و تربیت تروریستان از آن ها علیه هند استفاده می کند.» (۳)

در این جملهٔ مرکب «که موصول» حذف شده است؛ یعنی پس از« مدعی شد» باید لفظ «که» به کار رود؛ چون نقل قول غیرمستقیم است. یا در روزنامهٔ دیگری می خوانیم: " ... نه در منشور ملل متحد و نه درسایر میثاق های بین المللی و یا قواعد و قوانین داخلی کشورها جواز و مجوزی برای چنین مذاکراتی وجود ندارد." (۴)

پس از واژهٔ «بین المللی» لفظ «ویا» به کار رفته است. کاربرد واو عطف پیش از «یا» نادرست است لفظ « ویا» در جایی به کار می رود که معنای پیش و پس از آن متفاوت باشد. به طورمثال گفته شود: « بین المللی و یا جامعهٔ جهانی». نیز فعل مرکب «وجود ندارد» به جای « وجود دارد» آمده است که نادرست است و معنا را برعکس کرده است .

ص۳

قابل توجه علاقمندان روزنامهٔ اراده

روزنامهٔ اراده به اطلاع تمام اداره های دولتی و غیردولتی می رساند که توزیع روزنامهٔ اراده بعد از تاریخ اول حمل سال ۱۳۸۹ به طور رایگان صورت نخواهد گرفت؛ اداره ها و مراجعی که علاقمند دریافت روزنامهٔ اراده هستند، به دفتر روزنامه مراجعه نموده و وجه اشتراک پولی شان را بپردازند و با اشتراک شان در این روزنامه، در رشد، تقویهٔ و گسترش هر چه بیشتر رسانه های آزاد کشور، سهم خویش را اداء نمایند.

وجه اشتراک روزنامه قرار آتی است:

وجه اشتراک	در داخل کشور	برای موسسات،سفارتخانه هاودفترهای خارجی	برای محصلان و متعلمان
سالانه	۲۰۰۰ افغانی	۳۰۰ دالر امریکایی	۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه	۱۰۰۰ افغانی	۱۵۰ دالر امریکایی	۵۰۰ افغانی
سه ماهه	۵۰۰ افغانی	۷۰ دالر امریکایی	۲۵۰ افغانی

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجنیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com